د کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو علمي- څېړنيزه مجله
مجله علمی- تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences - Kabul University
e-ISSN: 3078-557X P-ISSN: 3078-6657

# د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د صکوکو د تمويل فقهي او اقتصادي ارزښت

**پوهنوال دکتور خواجه محمد عصامي**

د اسلامي ثقافت ډيپارټمنټ، د شرعياتو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

برېښليک: khuwajahmuhammad@gmail.com

**لنډيز**

دغه مقاله د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د صکوکو د تمويل دوو اړخيزو ابعادو ته په کتنې تمرکز کوي، چې د شريعت د اصولو سره سمون او اقتصادي اغېزې څېړي. څېړنه صکوک د يوې شرعي او مشروع مالي وسيلې په توګه معرفي کوي او د دې په اقتصادي وده، پانګونې راجلبولو او اخلاقي مالي کړنو کې د رول ارزښت روښانه کوي. د کيفي او کمي ميتود ترکيب په کارولو سره چې د فقهي متون تحليل او د مالي ارقامو ارزونه پکې شامله ده مطالعه د صکوکو د اغېزمنتيا هر اړخيزه پوهه وړاندې کوي. موندنې ښيي چې صکوک نه يوازې د اسلامي حقوقو اصولو سره سم دي، بلکې د افغانستان د مالي خلا ډکولو، د بنسټيزو پروژو پراختيا او اقتصادي ثبات د هڅولو لپاره هم ارزښتناک دي. څېړنه په افغانستان کې د صکوکو د تطبيق د ښه‌والي لپاره عملي سپارښتنې وړاندې کوي، د شته ننګونو د حل تر څنګ د صکوکو په اسلامي بانکوالۍ کې د دوامداري ودې د هڅولو وړتيا ته اشاره کوي.

**آرويونه:** صکوک؛ اجاره صکوک؛ مشارکه صکوک؛ مرابحه صکوک؛ مشروعيت؛ فقه

# The Fiqh and Economic Value of Sukuk Financing in Afghanistan's Islamic Banking System

**Khuwajah Muhammad Esumi**

Department of Islamic Culture, Faculty of Sharia, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: khuwajahmuhammad@gmail.com

**Abstract**

This article aims to explore the dual dimensions of Sukuk financing within Afghanistan's Islamic banking sector, focusing on its compliance with Sharia principles and its economic impact. The study highlights the significance of Sukuk as a Sharia-compliant financial instrument, addressing its role in fostering economic growth, attracting investments, and ensuring ethical financial practices. Using a mixed-methods approach—combining qualitative analysis of Islamic jurisprudential texts with quantitative evaluation of financial data—the research provides a comprehensive understanding of Sukuk's effectiveness. The findings reveal that Sukuk financing not only adheres to Islamic legal principles but also contributes to bridging Afghanistan's financial gap by promoting infrastructure development and economic stability. The study concludes with practical recommendations to enhance Sukuk implementation in Afghanistan, addressing existing challenges while emphasizing its potential to drive sustainable growth in the Islamic banking industry.

**Keywords:** Islamic jurisprudence; Sukuk; Lease-based Sukuk; Partnership-based Sukuk; Cost-plus financing Sukuk; Legitimacy

**ارجاع:** عصامی، خ. م. (۱۴۰۳). د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د صکوکو د تمويل فقهي او اقتصادي ارزښت. *ژورنال علمی- تحقیقی علوم اجتماعی- پوهنتون کابل* ۷(۳). ۳۳-۴۹. https://doi.org/10.62810/jss.v7i3.64

**سریزه**

صکوک د اسلامي مالي وسایلو له خورا مهمو برخو څخه ګڼل کېږي، چې د اسلامي فقهې او اقتصاد په چوکاټ کې پراخه ګټه ترې اخیستل کیږي. دا وسیله په ځانګړې توګه د اسلامي بانکوالۍ د اصولو سره سم ډیزاین شوې ده، چې د سودي معاملاتو پر ځای د شراکت، عوایدو او شفافیت پر بنسټ فعالیت کوي. صکوک نه یوازې د اسلامي اصولو اطاعت یقیني کوي، بلکې د اقتصادي پراختیا لپاره یو باوري او مشروع مالي بدیل هم وړاندې کوي.

په دې وروستیو کې په افغانستان کې، د صکوکو سیستم د پام وړ بحث موضوع ګرځېدلې، ځکه چې د هېواد اقتصادي ستونزې، د تمویل محدودیتونه او د نړیوالو اسلامي مالي کړنلارو کمزوری تطبیق د دې اړتیا رامنځته کړې، چې د صکوکو په څېر اسلامي مالي وسایلو په مرسته د اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي. سره له دې چې په افغانستان کې د صکوکو اړوند عملي تجربه محدوده ده، دغه مالي وسیله کولی شي د زیربنایي پروژو د تمویل، د پانګونې جلبولو او د اقتصادي ثبات لپاره یوه اغېزمنه وسیله وګرځي، په دې شرط چې د اسلامي شریعت اصول په بشپړه توګه پکې پلي شي.

د دې څېړنې اصلي پوښتنه دا ده چې صکوک څنګه کولی شي په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تمویل او اقتصادي پراختیا یوه اغېزمنه وسیله وګرځي؟ څېړنه د دې موضوع د اهمیت په دې اړخونو تمرکز کوي: د صکوکو د شرعي او اقتصادي ارزښت تحلیل، په افغانستان کې د صکوکو د تطبیق ننګونې او د صکوکو د اغېزمنتیا زیاتولو لپاره وړاندیزونه.

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې نه یوازې د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې علمي او عملي معلومات وړاندې کوي، بلکې د افغانستان په اقتصادي شرایطو کې د صکوکو د تطبیق لپاره عملي لارې چارې او وړاندیزونه هم وړاندې کوي.

د موضوع مخینې ته په کتلو سره، صکوک د اسلامي مالي وسایلو په اړه پراخه نړیواله څېړنه لري او د اسلامي نړۍ په ډېرو هېوادونو کې په زیربنایي، کرنیزو او صنعتي پروژو کې ترې ګټه اخیستل شوې ده. په افغانستان کې د دې موضوع اړوند محدود علمي او عملي منابع لیدل کیږي، چې دغه څېړنه غواړي دغه تشه را ډکه کړي او د اسلامي مالي سیستم لپاره د صکوکو په تطبیق کې یو پرمختګ رامنځته کړي.

د دې څېړنې موخه د صکوکو د تطبیق لپاره د فقهي او اقتصادي اساساتو تحلیل دی، ترڅو د اسلامي بانکوالۍ په چوکاټ کې د دې وسیلې د اغېزمنتیا لپاره یوه علمي او عملي طرحه وړاندې شي.

### د موضوع ارزښت

د افغانستان د اقتصادي سیستم په پرمختګ کې د صکوکو ارزښت خورا مهم دی. په افغانستان کې د صکوکو د مالي وسیلې کارول د اسلامي اقتصاد د ودې یوه بنسټیزه برخه ده، ځکه چې دا د سودي مالي وسا یلو بدیل ګڼل کېږي. صکوك د افغانستان په اقتصادي پرمختګ، د پروژو تمویل او د اسلامي شریعت مطابق مالي وسیلې په توګه کارول کېدای شي. د دې موضوع اهمیت له دې اړخه هم دی چې د اسلامي بانکوالۍ په نظام کې دا د شفافیت او باور فضا رامنځته کویاو په افغانستان کې د خلکو د باور د زیاتېدو سبب هم کېږي.

### د مسألې بیان

په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا لپاره د صکوکو اهمیت ورځ تر بلې ډېرېږي، خلك او مالي بنسټونه د سود پرته مالي وسایلو په لټه کې دي؛ صکوك د داسې وسیلې په توګه معرفي شوي، چې کولی شي د اسلامي شریعت مطابق اقتصادي پرمختګ رامنځته کړي. سره له دې د صکوکو اړوند ځینې تشې شته، چې دا څېړنه یې په علمي، اقتصادي او ټولنیز ډول ډکول غواړي. په افغانستان کې د صکوکو اړوند د فقهي اصولو د تشریح او تطبیق په برخه کې محدود علمي کار ترسره شوی دی. ډېرې څېړنې د نړیوالو تجربو څخه سرچینه اخلي او په کافي ډول د افغانستان ځانګړې اړتیاوې او شرایط نه څېړي. د صکوکو د پلي کېدو لپاره د افغانستان د اقتصادي چاپېریال، مالي بازارونو او پانګې اچونې لپاره ځانګړي شوي میکانیزمونه کمزوري دي. د دې مالي وسیلې د اقتصادي اغېزو او پایلو په اړه لږ معلومات شته، په ځانګړي ډول د پانګونې هڅونې او د شته ستونزو حلولو په برخه کې ډېر کار او زیار ته اړتیا لیدل کیږي. د صکوکو ټولنیز اړخونه، لکه د بېوزلۍ کمښت، کاري فرصتونو رامنځته کول او د ټولنیز عدالت تأمین لږ مطرح شوي دي. د عامه پوهاوي کچه هم ټیټه ده، چې د دې مالي وسیلې د پراخېدلو لپاره یوه جدي ستونزه ګڼل کېږي.دا څېړنه هڅه کوي چې د پورته یادو شویو تشو په ډکولو سره د صکوکو پر فقهي او اقتصادي اړخونو باندې روښانه رڼا واچوي او د تطبیقي کارونې ارزونه یې وکړي، ترڅو په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ لپاره یو عملي چوکاټ وړاندې کړي.

### د څېړندود

د دې څېړنې لپاره وصفي، تحلیلي او تطبیقي میتودونو څخه ګټه اخیستل شوې ده؛ د مستندو کتابونو، مقالو او د اسلامي بانکوالۍ اړوند د معاصرو څېړنو مطالعې شوې دي؛ لومړني او ثانوي منابع لکه قرآن، احادیث، د اسلامي فقهې کتابونه او د اسلامي اقتصاد کتابونه د صکوکو په اړه مطالعه شوي دي. همدارنګه د افغانستان د معاصرو اقتصادي راپورونو او د مالي بنسټونو د معلوماتو په رڼا کې د صکوکو تطبیقي کارونې تحلیل شوی دی.

**د څېړنې مخينه**

صکوک د اسلامي مالي وسايلو يوه مهمه برخه ده، چې د اسلامي بانکوالۍ او اقتصاد په چوکاټ کې مهم ځای لري. د صکوک مفهوم او د دې فقهي او اقتصادي اړخونو ته د لا پراخې پوهې د لاسته راوړلو په دې برخه کې، لاندې درې مهمې مراجعې څېړل شوې دي:

"Islamic Finance: Theory and Practice" by Abdul Ghafar M. Ismail: Pearson Educationد چاپ کال2011 کتاب د اسلامي بانکوالۍ اصول او نظريات په تفصيل سره بيانوي. په دې کې د صکوک، مرابحې، مشارکت، او مضاربت بېلابېلې نمونې او د کارونې لارې چارې تشريح شوې دي. په دې کتاب کې د صکوکو د کارونې په اړه د معاصرو چيلنجونو او فرصتونو په اړه ډېر لږ معلومات وړاندې شوي، چې څېړونکی غواړي په دې برخه کې تفصيلي څېړنې وشي.

"Sukuk: The Islamic Capital Market" by H. A. S. Ali: Routledgeد چاپ کال2014 کتاب کې د صکوکو تاريخ، کارونې او د اسلامي مالي بازار په جوړښت کې د دې ارزښت په اړه بحث شوی دی. دغه کتاب د صکوکو د بېلابېلو نمونو او د هغوی د چلند ميکانيزمونه تشريح کوي. د افغانستان ځانګړي اقتصادي وضعيت ته يې پام نه دی کړی، چې څېړونکی غواړي د صکوکو کارونې په اړه ځانګړی تحليل وکړي.

"Islamic Finance: Principles and Practice" by Hans Visser: Edward Elgar Publishingد چاپ کال2010 کتاب د اسلامي مالياتو، بانکوالۍ او سرمايه ګذارۍ اصولو باندې تمرکز کوي. د صکوکو د جوړښت، تطبيق او د دې له لارې د رامنځته کېدونکو اقتصادي فرصتونو په اړه مفصل معلومات وړاندې کوي، په دې کتاب کې د صکوکو د اغېزو پر بېلابېلو سکتورونو کې د لا تفصيلي معلوماتو کمښت دی، چې څېړونکيغواړي د دې په ارزونه کې نوي معلومات اضافه کړي . د پورته کتابونو مطالعه د صکوکو په اړه د پراخې پوهې ترلاسه کولو لپاره مهمه ده. ليکوال د دې کتابونو له څېړلو وروسته دا معلومه کړه، چې صکوک د عامه تمويل لپاره ځومره يوه ارزښتناکه مالي وسيله ده او کارونه يې د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ ځومره مثبتې اقتصادي اغيزې لرلی شي. د صکوکو په اړه ددې څېړنې موخه د اسلامي بانکوالۍ د ودې په برخه کې د نويو اندونو او عملي حل لارو موندل دي، چې د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د موجوده نيمګړتياوو په نښه کولو او د حل لارې پيدا کولو سره به حل شي. د افغانستان اقتصادي سکتور به ورسره وده وکړي او په ټولنه کې به اقتصادي سمون او رغونه رامنځ ته شي.

**اصلي او فرعي پوښتنې**

**اصلي پوښتنه**

د افغانستان په اسلامي بانکدارۍ کې د صکوکو ارزښت څه دی؟ او څنګه کولی شي د اقتصادي پرمختګ لپاره ګټور ثابت شي؟

**فرعي پوښتنې**

د اسلامي فقهې له نظره د صکوکو کوم ډولونه مشروع دي؟

څنګه کولی شو په افغانستان کې د صکوکو په مرسته لویې دولتي پروژې تمویل کړو؟

د صکوکو په اړه د اسلامي فقهاوو او معاصرو اقتصادپوهانو نظریات څه دي؟

**د څېړنې اصلي او فرعي موخې**

**اصلي موخه**

د صکوکو فقهي او اقتصادي ارزښت او د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې یې هراړخیزه څېړنه، تحلیل، شننه او په اسلامي بانکوالۍ کې یې تطبیقي کارونه .

**فرعي موخې**

د شریعت او فقهې د اصولو په رڼا کې د صکوکو د مشروعیت څېړل.

د افغانستان په مالي بازارونو کې د صکوکو تطبیق او د اقتصادي اغیزو تحلیل او شننه یې.

د صکوکو په مرسته د لویو پروژو لپاره د تمویلي امکاناتو څېړل.

**په لغت کې د صکوکو تعریف**

صکوک د عربي ژبې د صک جمع دی، چې د سند، لاسلیک یا تضمین په معنا دی. دا اصطلاح د اسلامي تاریخ په اوږدو کې د معاملو د حقوقو او معاملاتو د اثبات لپاره کارېدله (ابن منظور (۱۹۹۴، ج: ۱، ص: ۴۵).

**په اصطلاح کې د صکوکو تعریف**

صکوک هغه اسلامي مالي وسایل دي، چې د شریعت اصولو سره سم د شتمنیو، خدمتونو یا پروژو د تمویل لپاره کارول کېږي. صکوک د شتمنۍ په برخه کې د ملکیت یا شریکېدو حقوق څرګندوي او د سودي سندونو لپاره یوه مشروع بدیله وسیله ګڼل کېږي (المنامة (۲۰۱۷، المعاییر الشرعیة).

**د صکوکو ځانګړنې**

**د شریعت موافقت:** صکوک د شریعت له اصولو سره په بشپړ ډول مطابقت لري او له سود او قمار څخه پاک دی.

**د ملکیت حق:** د صکوکو خاوندان د شتمنۍ مالکیت یا په ګټه کې شریک حقوق ترلاسه کوي.

**شفافیت:** ټول معاملات یې مستند او شفاف دي.

**د تمویل تنوع:** صکوک د مختلفو تمویلي اړتیاوو، لکه: اجاره، ګډون او مضاربت لپاره کارول کېږي.

**په ګټه او تاوان کې شراکت:** د صکوکو خاوندان په ګټه او زیان دواړو کې شریک دي (المنامه (۲۰۱۷، المعاییر الشرعیة).

**د صکوکو او سندونو ترمنځ توپیر**

**د صکوکو ځانګړنې**

- ✓ د شریعت سره مطابقت لري.
- ✓ د شتمنۍ یا پانګې مالکیت څرګندوي.
- ✓ ګټه او زیان شریکوي.
- ✓ د اسلامي اصولو پر اساس کار کوي.
- ✓ د تمویلي اړتیاوو لپاره متنوع دی.

**د سندونو ځانګړنې**

- ✓ د سود پر اساس دي.
- ✓ د پور ورکولو حق څرګندوي.
- ✓ یوازې ګټه تضمینوي.
- ✓ یوازې د پور په سیستم تمرکز کوي.
- ✓ محدود تمویل برابروي (تقي العثماني ( ۲۰۰۲م، ص: ۳۵).

**د صکوکو د غوره والي شاخصونه**

- ✓ **اقتصادي ثبات:** د شتمنیو عادلانه وېش ته وده ورکوي او د سودي معاملاتو مخنیوی کوي.
- ✓ **د خطر وېش:** د پانګې د ضیاع خطرونه په منصفانه ډول وېشي.
- ✓ **شفافیت:** د معاملاتو دشفافیت باور زیاتوي.
- ✓ **اخلاقي تمویل:** ټولې معاملې د اسلامي اخلاقو پر بنسټ ترسره کېږي.
- ✓ **د تمویل پراخوالی:** د اقتصادي اړتیاوو د پوره کولو لپاره انعطاف لري ( محمد عبید الله ، ۲۰۰۵م، ص: ۴۵) .

## د اسلامي فقهې له نظره د صکوکو مشروعيت

## په قرآن او سنتو کې د صکوکو مشروعيت

په اسلامي شريعت کې محرمات ډېر کم او معدود دي. هر هغه څه چې د انسان ژوند ژغوري په دنيا او آخرت کې د انسان لپاره گټور او مفيد ثابتيږي او د شرعي اقتصادي سوداگريزو اصولو سره په ټکر او تعارض کې نه واقع کيږي شريعت جواز ورکوي؛ بلکه د مشروع گټې او کار لپاره شريعت مسلمانان تشويق کړي، حلاله گټه او تجارت يې عين عبادت بللی دی. په قرآن کريم کې الله تعالی فرمايي: "وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا" (سورة البقرة ( ۲۷۵). ژباړه: الله سوداگري روا او سود حرام گرځولی دی.

په دې آيت کې سوداگرۍ ته د ربا يا سود په مقابل کې مشروعيت ورکړل شوی دی، چې د صکوکو اصول هم په همدې سوداگرۍ او حقيقي شراکت باندې ولاړ دي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

عن جابر بن عبد الله قال: «لا رِبحَ إلاَّ في الْمُدَارَجَةِ، وَمَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا» ( البخاري، ( ۱۹۹۷، حديث نمبر: ۲۰۷۱).

ژباړه: «هيڅ ډول ربح نه دی مشروع پرته له هغه چې په انصاف او د معاملې په خلوص کې ترسره شي، او که څوك فريب وکړي نو هغه موږڅخه نه دی». دا حديث د ربح (گټې) د مشروعيت اصول تشريح کوي، چې د سود پر ځای ربح د انصاف او شفافيت سره پکار دی. صکوك د شريعت له اصولو سره سم د ربح له مخې مشروعيت لري، ځکه چې د معاملو په پروسه کې شفافيت، انصاف او عدالت ته توجه ورکوي.

"لا يبع حاضر لباد، ولا يبع بعضكم على بيع بعض" (صحيح مسلم (۱۵۸۷). ژباړه: يو حضري (ښاري) د صحراء نشين سره تجارتي او سوداگريزه معامله نه کوي او يو مسلمان د بل مسلمان په خرڅون باندې د خرڅون معامله نه کوي.

د پورتني حديث مفهوم دا دی، چې ښاري په تجارتي او سوداگريزو مسايلو کې ډېر هوښيار دی؛ که چيرته کليوال بازار ته راځي دی په اکثره وختونو کې د بازار له نرخونوڅخه خبر نه وي؛ نو خامخا د چل او دوکې سره مخ کيږي. په هم دې ډول يو مسلمان دې د بل مسلمان په معامله او يا خرڅون کې ځان نه وراچوي، چې دا کار د اختلاف او ستونزو لامل گرځي او تجارتي معاملات او سوداگري ترې اغيزمنه کيږي. په عمومي ډول حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم لارښوونه کوي چې د مسلمانانو سوداگريزې کړنې بايد له چل، فريب او دوکې څخه پاکې وي؛ ترڅو يې په مالونو او شتمنيو کې برکت پيدا شي. د دغه حديث په رڼا کې دا روښانه کيږي، چې صکوك هغه سوداگريز گډون دی،

چې په ګټه او تاوان کې يې د تړون دواړه طرفين شريک وي او دا حالت بيا عينا هغه څه دی، چې شريعت وربانديې په ټولو مالي معاملاتو ټينګار کوي او له دې قاعدې لاندې يې راولي.

(الغنم بالغرم) (ګټه په تاوان) دا هغه قاعده او اصل دی، چې په فقهي اقتصادي مسايلو کې پراخ او لوی تطبيقات لري او په ټولو معاملو کې د ربا او سود لاره ډپ کوي؛ د تمويل او بانکداری مسايل د شريعت له اصولو او اساساتو سره برابروي.

**د صکوکو په اړه د فقهاوو او اقتصاد پوهانو اندونه**

د اسلامي نړۍ مشهور فقيه، شيخ محمد تقي عثماني وايي، چې صکوک د اسلامي شريعت پر بنسټ ولاړ دي او د سودي سندونو پر ځای يو مشروع بديل دی، ځکه چې صکوک په حقيقي ملکيت او شراکت باندې ولاړ دي، هر ډول مبهمې معاملې په کې منع شوې دي (عثمانی محمد تقي (۲۰۰۲م) ص: ۳۵). اسلامي اقتصادپوهان لکه دکتور زبير اقبال باور لري، چې صکوک د پانګوالو لپاره يوه داسې شفافه مالي وسيله ده، چې د شريعت له مخې مشروعيت لري او په اسلامي نړۍ کې د اقتصادي پرمختګ لپاره يوه حياتي وسيله ګڼل کېږي (اقبال و ميراخور ( ۲۰۱۱م، ص: ۳۵).

د فقهې له اړخه صکوک مشروع ګڼل کېږي، ځکه چې د شريعت بنسټيز اصول پکې په پام کې نيول شوي دي. دا مالي وسيله پر شراکت، کار او عوايدو ولاړه ده او له سودي معاملو څخه پاکه ده (المسعودي، (۲۰۱۵ص. ۵۰-۶۵) . د افغانستان لپاره د صکوکو اقتصادي او تمويلي ګټه، د زيربنايي پروژو د تمويل يوه مناسبه وسيله ده. دا وسيله کولی شي د پروژو لپاره د پانګوالو ګډون زيات کړي، پرته له دې چې د سودي سيستم شبهه رامنځته شي (الراجحي، ن(۲۰۱۸ ص. ۷۰-۹۰). صکوک دافغانستان په مالي بازارونو کې کولای شي پانګونه وهڅوي. د اسلامي شريعت مطابق د صکوکو کارول د خلکو باور زياتوي او د پانګوالو لپاره د تمويل ډاډمنه وسيله رامنځ ته کوي (صديقي محمد (۲۰۰۴م) ص: ۵۸).

**د صکوکو اقتصادي مفهوم،ابعاد او د ځينو هيوادنو عملي کامياب تطبيقات**

د اسلامي صکوکو مفهوم: صکوک مالي تمويلونکي وسايل ګڼل کيږي، چې د اسلامي شريعت په اصولو باندې تکيه کوي(د اسلامي پراختيا بانک (۲۰۲۳). ص. ۵٦). صکوک د خاصو پروژو لپاره د پانګوالو څخه د پيسو راټولولو يوه لاره ده، چې د اقتصاد په وده کې مرسته کوي (العثماني، م. ت (۲۰۱٤ ص. ۳۰-۵۰). په همدې ډول صکوک اقتصادي او مالي ابعاد لري، چې اقتصادي وده هڅوي او د عامه پروژو لپاره اضافي تمويل برابروي. د اقتصادي ودې او پايښت د پرمختيا او ودې لامل ګرځي، د صکوکو له لارې تمويل شوې پروژې نوې دندې رامنځته کوي، چې د ژوند کچه لوړوي، د تمويل لپاره مرسته کوياو د پايښت لرونکې پرمختيا موخه لري، لکه :د بنسټيزو جوړښتونو او نوې انرژۍ پروژې

تمویل او مالي مرسته، چې پر بنسټ یې د هیوادونو زیربناوې په ښه توګه رغیږي او د مالي نقدینګیو یوه لویه او بنسټیزه وسیله ده. د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام په یوه راپور کې ویل شوي: "د صکوکو کارول د هېوادونو وړتیا د پایښت لرونکې پرمختیا اهدافو ته رسیدو کې زیاتوي، نقدینګي ډیروي او د بیکارۍ ګچه راټیټوي ( د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (۲۰۲۳). ص. ۷۵) .

په ځینو اسلامي هېوادونو کې، صکوک د تمویل وسیلې په توګه کارول شوي دي، چې ډیر ګټور او اغیزمن ثابت شوي دي، لکه: مالیزیا چې د بنسټیزو پروژو لپاره یې بېلابېل ځو صکوک صادر کړي، چې په اقتصادي پرمختګ کې یې مرسته کړې ده (البرغوثي، م(۲۰۱۹ ص. ۱۰۱-۱۱۵) .

ترکیه: په دې هېواد کې صکوک د استوګنې او ښار جوړونې پروژو د تمویل لپاره کارول کیږي، چې د خلکو د ژوند شرایط یې ښه کړي دي (الباز، أ، ۲۰۱۷ ص. ۲۰۰-۲۲۰).

سعودي عربستان: په دې هېواد کې د انرژۍ او ترانسپورت په برخو کې د سترو پروژو د تمویل لپاره صکوک کارول کیږي، چې د اقتصادي اهدافوپه ترلاسه کولو کې یې اغیزمنه مرسته کړې ده (شریف، أ(۲۰۲۰ ص. ۸۵-۱۰۰) .

په پاکستان کې بیا د ترانسپورټ او حلقوي سړکونو د جوړولو لپاره صکوک صادر شوي؛ چې د پاکستان ترانسپورټي سیستم ورسره بې سارې وده کړې ده. د اسلامي اقتصاد او مالي شورا د یوه راپور له مخې، "د صکوکو د کارولو بریالۍ تجربې د پایښت لرونکې پرمختیا په ترلاسه کولو کې د دې وسایلو اغېزمنتوب ښیي (د اسلامي اقتصاد او مالي شورا( (۲۰۲۴). ص. ۹۲).

## د افغانستان په اسلامي بانکوالۍ کې د صکوکو عملي تطبیقات

صکوک د اسلامي بانکوالۍ په سیستم کې د شریعت مطابق یوه مهمه مالي وسیله ده، چې د سودي معاملو پر ځای کارول کېږي.د صکوکو اقتصادي ګټورتیا په دې کې ده چې دوئ د لویو دولتي او زیربنایي پروژو لپاره د تمویل یوه ښه وسیله ده (القرضاوي یوسف ( م۲۰۰۹) ص: ۸۹). په افغانستان کې د صکوکو سیستم کولی شي د اقتصادي پرمختګ لپاره یو حیاتي رول ولوبوي، او د پانګوالو لپاره یو اسلامي تمویلي او شفاف فرصت برابرنځ ته کړي. (عثماني محمد تقي ( ۱۹۹۸) ص: ۹۲) . د افغانستان مرکزي بانک باید د صکوکو په پراختیا او عاملو کې هڅې وکړي ترڅو د اسلامي شریعت مطابق مالي وسایل دود شي. (عبیدالله محمد ( ۲۰۰۵م، ص: ۱۲۳). د صکوکو په اړه عامه پوهاوی زیات شي، ترڅو خلک پوه شي چې دا وسیله څنګه د دوئ د اقتصادي ګټو لپاره کارول کېږي. (کمالی محمد هاشم ( ۲۰۰۰، ص: ۵۵). د صکوکو لپاره یو قانوني چوکاټ جوړ شي، چې د شریعت مطابق او د اقتصادي انکشاف سره سمون ولري (الجمل محمد أحمد ( ۲۰۰۶م ، ص: ۴۵).

## په افغانستان کې د صکوکو اوسنی وضعیت او ننګونې

### په افغانستان کې د صکوکو اوسنی وضعیت

اسلامي صکوک په افغانستان کې نسبتاً نوې تمویلي وسیله ګڼل کیږي (العطية، خ(۲۰۲۱ ص. ٤٠-۵۵). سره له دې چې افغان حکومت د صکوکو له لارې د پروژو تمویل ته علاقه لري، خو د هېواد مالي بازار لا هم د جوړښتي او ساختاري ننګونو سره مخ دی (الحمادي، س) .۲۰۱۹ ، ص. ۱۱۰-۱۲۵).

**اوسنی قوانین:** تراوسه پورې په افغانستان کې د اسلامي صکوکو د صادرولو لپاره ټولنیز قانوني چوکاټ نه دی جوړ شوی، چې دا چاره د محلي او بهرنیو پانګوالو دجذبولو ظرفیت محدودوي.

**مالي بنسټیز جوړښت:** افغانستان یو پرمختللی مالي بنسټیز جوړښت نه لریاو دا د صکوکو د اغېزمن پلي کېدو مخه نیسي. د بېلګې په توګه، د صکوکو لپاره د وړاندیز شویو شتمنیو سمه ارزونه نشته، چې دا تشه بیا د صکوکو تمویلي پروسه له خنډ او ځنډ سره مخ کوي (الشامسي، م) .۲۰۲۰ ، ص. ۱۵۰-۱۷۰).

**د پانګوالو جذبه او احساسات:** په افغانستان کې د صکوکو په اړه د پانګوالو ترمنځ پوهاوی او معلومات کم دي، چې دا د دې تمویلي وسایلو د غوښتنې د کموالي لامل ګرځي او خلک زړه نه ښه کوي چې ګډون پکې وکړي. د نړیوال بانک د یوه راپور له مخې((په افغانستان کې د صکوکو د پلي کولو تر ټولو مهم خنډونه د صکوکو په اړه د پوهې کموالی او د مناسب قانوني چوکاټ نشتوالی دی)) (د نړیوال بانک (۲۰۲۲، ص. ۴۵).

### په افغانستان کې د صکوکو په پلي کولو کې شته ننګونې او ستونزې

افغانستان د صکوکو د پلي کولو په لار کې له لاندې ننګونو او ستونزو سره لاس او ګریوان دی.

**د قانوني بنسټ نشتوالی**: د صکوکو د صادرولو لپاره یو مناسب او ټولنیز قانوني چوکاټ جوړول اړین دي، چې د ثبت او سوداګرۍ لپاره روښانه پروسې په کې شاملې وي (السلمي، ع(۲۰۱۸، ص. ۲۵-۳۵).

**پر دودیز مالي نظام تکیه:** دودیز بانکي نظام د بازار په کنټرول کې دی، چې صکوک د بدیلې وسیلې په توګه د معرفي کولو په برخه کې خنډ جوړوي (العنزي، ر (۲۰۱٦، ص. ۹۰-۱۰۵).

**عمومي اقتصادي ننګونې او ستونزې:** د افغانستان اقتصادي شرایط بې بنسټه پاتې کیږي، چې کورنۍ شخړې او اقتصادي بحرانونه د صکوکو د پانګونې پهجذبه باندې منفي اغیزې ښندي(الخطیب، م(۲۰۱۷، ص. ٦٠-۷۵).

**وروسته پاتې بازار:** د صکوکو لپاره د ثانوي بازار نشتوالی، پانګوالو ته د دې وسایلو د پلورلو او ګډون په برخه کې د نا امنۍ او نا ډاډمنتوب احساس ورکوي. د "اسلامي تمویل مطالعات" مجلې په یوه څېړنه

کې دې ته اشاره شوېچې: " په افغانستان کې د صکوکو په پرمختګ باندې اقتصادي او سياسي ننګونو او ستونزو د پام وړ اغيزه لرلی دی (محمود، عبدالله (۲۰۲۳) ص. ۱۱۲).

**دريم مطلب: په افغانستان کې د صکوکو د کارولو لپاره اوسني فرصتونه او چانسونه**

سره له دې چې په افغانستان کې د صکوکو کارونه له بېلابېلو ننګونو او ستونزو سره مخ ده؛ خو بيا هم شته فرصتونه يې د کارونې لپاره لارې هواروي، چې په لاندې کرښو وړاندې کيږي:

**قانوني اصلاحات** : که افغان حکومت د صکوکوڅخه د ملاتړ قوانين صادر کړي، نو د پانګونې د زياتېدو لپاره لويه زمينه برابرېدلای شي (الغانم، ب(۲۰۱۹، ص. ۳۰-٤٥).

**نړيواله مرسته او همغږي:** افغانستان کولای شي د نورو هغو هېوادونو تجربې وکاروي، چې صکوک يې په برياليتوب سره کارولي دي. لکه ماليزيا او ترکيه (الطفيل، ع(۲۰۲۰ ، ص. ٤٥-٦٠).

**دعامه پوهاوي لوړول:** د ورکشاپونو او کنفرانسونو له لارې، د پانګوالو ټولنې ته د صکوکو د ګټو او د کارولو په اړه يې عامه پوهاوی زيات کړي (المهري، ز (۲۰۲۱ ، ص. ۷۵-۹۰).

**بهرنيو پانګونو ته د پام وړ شرايط جوړول:** که چېرې د صکوکو لپاره مناسب قانوني چاپيريال چمتو شي، دا به بهرنۍ پانګونه راجلب کړي، چې د ملي اقتصاد د ودې لپاره به مرستندويه تمامه شي. د اسلامي همکارۍ سازمان د يوه راپور له مخې، "صکوک کولی شي د افغانستان د اقتصادي پرمختيا په لاسته راوړلو کې مهمه ونډه ولري، خوکه نوي نوښتونه او بازارموندنې ترسره شي (اسلامي همکارۍ سازمان (۲۰۲۴). ص. ۸۰).

**د افغانستان په عامه تمويل کې د صکوکو د رول پياوړی کول**

**د صکوکو د تنظيم لپاره دقانوني چوکاټ پراختيا**

په افغانستان کې د صکوکو د کارولو د زياتولو لپاره لومړی ګام، د يوه ټولنيز قانوني چوکاټ جوړول دي چې لاندې مسايل بايد په کې شامل وي:

**د صکوکو د کارولو لپاره د خاص قانون شتون:** دا قانون بايد د صکوکو د رامنځ ته کولو ټول اړخونه روښانه کړي، چې د قانوني پروسو اړوند عامه پوهاوی او د پانګوالو حقونه پکې شامل وي (الجبوري، أ(۲۰۱۸ ص. ۱۱۵-۱۳۰).

**د شتمنيو د ارزونې معيارونو پراختيا:** د صکوکو د صادرولو لپاره بايد ځانګړي معيارونه او پروسې وټاکل شي، چې د شتمنيو د ارزونې پروسه ساده کړي (لبراء، ع (۲۰۱٦، ص. ۲۰۰-۲۱۵).

**د شفافیت او روښتیا زیاتول:** د صکوکو د صادرولو پروسه باید شفافه وي، چې پانګوالو ته د پروژو او شتمنیو په اړه واضح معلومات وړاندې کړي. دغه غوښتنه او تقاضا د افغانستان د اسلامي بانک د یوه راپور له مخې داسې روښانه کیږي " د دې تمویل د پلي کولو او د صکوکو د تنظیم لپاره یو قانوني چوکاټ جوړول اړین دی (افغان اسلامي بانک (۲۰۲۳، ص. ۳۷).

### د صکوکو د پلي کولو لپاره د ټکنالوژۍ کارول

ټکنالوژي د صکوکو د پلي کولو په پروسه کې مهمه ونډه لري، چې لاندې ټکي په کې شاملیږي:

**د بلاکچین ټکنالوژۍ[1] کارول:** د بلاکچین ټیکنالوژي د صکوك د پلور او ښکاره کولو پروسه اسانه کوي، چې د شفافیت او امنیت لپاره کارول کیدی شي (الشعراني، م(۲۰۱۷، ص. ۱۰-۲۰).

**آنلاین د تمویل پلیټ فارمونه:** د دې پلیټ[2] فارمونو له لارې د صکوکو معاملې اسانه او د خلکو لپاره لاسرسی زیاتوي.

**د مالیې او محاسبې نوې ټکنالوژۍ:** دا به د صکوکو د مدیریت او حساب ورکونې پروسه چټکه او مؤثره کړي.

ددغې ټکنالوژي کارونه ډیره مهمه ده د "معلوماتي ټکنالوژۍ او مالي نوښت" مجلې په یوه څیړنه کې ویل شوي، " د صکوکو د پلي کولو پروسې د خنډونو له منځه وړلو لپاره د ټکنالوژۍ کارول مؤثره لاره ده. (شرف، محمد. (۲۰۲۴، ص. ۲۵).

### د صکوکو اړوند د عامه پوهاوي پروګرامونه

د دې تمویلي وسیلې د پلي کولو لپاره د صکوکو په اړه د عامه پوهاوي لوړول اړین دی، چې لاندې ټکي په کې شامل دي:

**محلي، اقتصادي او سوداګریزو ټولنو ته روزنه ورکول:** د ورکشاپونو او سمینارونو له لارې د خلکو پوهاوی لوړول، چې په هغه کې د صکوکو ګټې او کارونې لارې چارې شاملې وي (الراجحي، ن (۲۰۱۸) ، ص. ۷۰-۹۰).

---

[1] : د بلاکچین ټکنالوجی مفهوم دا یوه ډیجیټل ټکنالوجي ده چې په غیر متمرکز ډول د معلوماتو ثبتولو او شریکولو لپاره کارول کیږي. دا د ریکارډونو (چې "بلاکونه" بلل کیږي) یوه سلسله ده چې د کرپټوګرافیکو تخنیکونو په وسیله سره تړل شوي او خوندي دي. هر بلاک د معلوماتو یوه برخه لري او کله چې نوي معلومات اضافه شي، نوی بلاک جوړیږي او پخوانیو بلاکونو سره تړل کیږي. دا ټکنالوجي ډاډ ورکوي چې معلوماتو ته لاسرسی خوندي، شفاف، او بدلون نه منونکي وي، او دا ډیری وخت د کرپټو اسعارو (لکه بیټکوین) او نورو ډیجیټل اثاثو په ساتنه کې کارول کیږي.

[2] : یعنې هغه مالي چوکاټونه چې د ټکنالوجی په واسطه کارول کیږي.

**د رسنيو له لارې معلومات ورکول**: د بېلابېلو رسنيو له لارې د صکوکو په اړه معلومات خپرول، ترڅو د عامو خلکو ترمنځ پوهاوی زيات شي (الباز، أ (۲۰۱۷، ص. ۲۰۰-۲۲۰).

**د تحصيلي بنسټونو سره همغږي او مرسته:** د پوهنتونونو او تحصيلي ادارو سره همکاري کول، ترڅو د صکوکو په اړه تحصيلي مواد او روزنيز پروګرامونه وړاندې کړي.

د افغانستان د تعليمي، تحصيلي اومالي بنسټونو د وزارتونو په يوه راپور کې ويل شوي دي، " د صکوك د غوښتنې د زياتولو لپاره د عامه پوهاوي پروګرامونه مهم دي" (الزبير، ع (۲۰۱٦) ، ص. ۱۵-۲۵)

**د څېړنې لاس ته راوړنې ( يافته ها)**

**۱. د صکوکو فقهي او اقتصادي ارزښت**

صکوك د اسلامي بانکوالۍ يوه مهمه برخه ده، چې د اسلامي شريعت د اصولو سره سم کار کوي. دا وسيله نه يوازې د سودي معاملاتو بديل دی، بلکې د عادلانه ونډې او عوايدو په اساس کار کوي. د اسلامي شريعت په چوکاټ کې د صکوکو کارول مشروع ګڼل کېږي، چې د قرآني آياتو او احاديثو په رڼا کې د اقتصادي شفافيت او عادلانه خطرونو توزيع ته لاره هواروي.

**۲. د اقتصادي پرمختګ لپاره د صکوکو مهم رول**

صکوك کولی شي په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ د تمويل يوه اغېزمنه وسيله وي. د دې تمويل وسيله د پروژو لپاره د پانګوالو ګډون زياتوي او د خلکو د اعتماد کچه لوړه وي، کوم چې په ټولنه کې د اسلامي بانکوالۍ پرمختګ ته زمينه برابروي. د صکوکو له لارې تمويل شوې پروژې د اقتصادي ودې او د بيکارۍ د کموالي لامل ګرځي.

**۳. شفافيت او د پانګوالو باور**

د صکوکو د صادرولو په پروسه کې د پروژو او شتمنيو تفصيلاتو افشا کول د شفافيت زياتوالی او د پانګوالو باورڅانته را اړوي. په دې توګه صکوك د اسلامي بانکوالۍ لپاره يو شفاف او د باور وړ بديل دی، چې د خلکو په منځ کې د مالي معاملو په اړه مثبتې څرګندونې رامنځته کوي.

**۴. د صکوکو د نړيوالو تجربو ارزونه**

د اسلامي هېوادونو لکه ماليزيا، ترکيې، سعودي عربستان او پاکستان د صکوکو برياليۍ تجربې ښيي، چې صکوك د عامه پروژو د تمويل لپاره يوه اغېزمنهلاره ده. دا تجربې په افغانستان کې د صکوکو د کارونې لپاره ښه مثالونه او نمونې وړاندې کوي

### ➢ د څېړنېپایلې

په ځانګړې توګه د افغانستان په اقتصادي سیستم کې د صکوکو د اسلامي مالي وسیلو ارزونه ده، چې د دې مهمې وسیلې په واسطه د فقهي، اقتصادي او عملي تطبیق اړخونه روښانه کوي. د دې څېړنې په پایله کې ځینې کلیدي ټکي او پایلې په لاندې ډول وړاندې شوي دي:

**۱. صکوک او اسلامي شریعت:** د اسلامي شریعت په اصولو کې د صکوکو مشروعیت د شفافیت او عدل پر بنسټ ولاړ دی. قرآن او سنت د صکوکو کارول روا بللي، ځکه چې دا د سودي معاملاتو پر ځای د شراکت او عوایدو پر بنسټ کار کوي. صکوک د اسلامي اصولو سره سمون لري او د ګټې او تاوان په شراکت کې د دواړو لورو حقوق ساتي.

**۲. اقتصادي او مالي ګټې:** د افغانستان لپاره د اسلامي بانکوالۍ په سیستم کې صکوک د تمویل یوه نوې او اغېزمنه لاره وړاندې کوي. د دې وسیلې کارول به د هېواد اقتصادي ودې، د پروژو تمویل او د خلکو د اعتماد زیاتولو لپاره مهمه برخه ولري. صکوک د مالي شفافیت او خطرونو عادلانه توزیع ته اجازه ورکوي، چې د پایښت لرونکې پرمختیا لپاره مهم دي.

**۳. تطبیقي کارونې**: د صکوکو تطبیقي کارونې د بېلابېلو اسلامي هېوادونو په تجربه کې بریالۍ ثابتې شوې، لکه مالیزیا، ترکیه، سعودي عربستان او پاکستان، چې دا هېوادونه د صکوکو په مرسته په بیلابیلو پروژو کې د پرمختګ او ودې رامنځته کولو کې لاسته راوړنې لري.افغانستان هم کولی شي د دې تجربو څخه ګټه پورته کړي.

**۴. پانګونه او د خلکو باور:** صکوک د پانګوالو لپاره د تمویل یوه ډاډمنه او شفافه وسیله برابروي، چې له دې امله د خلکو او مالي بنسټونو ترمنځ د اعتماد فضا رامنځته کوي. د صکوکو کارول به په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا لپاره مهمه مرسته وکړي، چې د اقتصادي پرمختګ لپاره اړین دي.

**وړاندیزونه**

۱. **د صکوکو د پلي کولو لپاره روښانه تګلاره**: د افغانستان حکومت او مالي بنسټونه باید د صکوکو د پلي کولو لپاره یو واضح قانوني او عملیاتي تګلاره رامنځته کړي. دا تګلاره باید د اسلامي شریعت اصولو ته پابنده وي او د صکوکو د شفافیت لپاره مناسبه زمینه برابره کړي.

۲. **د مالي بنسټونو ظرفیت لوړول**: د افغانستان د مالي بنسټونو ظرفیت لوړول اړین دي، تر څو د صکوکو د کارونې پروسه غوره ترسره شي. د دې لپاره باید د مالي کارپوهانو روزنه او معلوماتو ته لاسرسی زیات شي.

۳. **د عامه پوهاوي پراختیا**: د صکوکو په اړه عامه دپوهاوي زیاتول او د خلکو د باور جلبول باید د حکومت او مالي بنسټونو له لوري یې هڅه وشي. دا پوهاوی به د صکوکو د کارونې په لور د خلکو چلند او افکار مثبت کړي.

**۴. د نړیوالو تجربو څخه زده کړه:** افغانستان باید د اسلامي هېوادونو د صکوکو د بریالی تجربو څخه زده کړه وکړي او دا تجربې د خپلو پروژو لپاره وکاروي. دا به د صکوکو د کارونې اغیزمنتوب لوړ کړي او د اقتصادي ودې لامل به شي.

## اخځلیکونه


القرآن

ابن منظور(١٩٩٤) لسان العرب، بيروت: دار صادر.

الأحمد، س (٢٠١٨) الصكوك الإسلامية: المفهوم والتطبيقات. الرياض: دار الفكر.

اسلامي همکارۍ سازمان (۲۰۲۴). د صکوک په اړه تازه تجربې

افغان اسلامي بانک (۲۰۲۳). د صکوک لپاره قانوني چوکاټ.

اقبال و ميراخور ( ٢٠١١م) مقدمة في التمويل الاسلامي: النظرية والتطبيق، جون وايلى ايند سن.

الباز، أ ( ٢٠١٧ .(الصكوك الإسلامية: الأهمية والتحديات. الكويت: مؤسسة البحوث والدراسات.

البخاري، محمد بن إسماعيل(١٩٩٧)، صحيح البخاري (الطبعة الثانية). بيروت: دار الفكر.

البراء، ع (٢٠١٦ .(الصكوك وأثرها في الاقتصاد الوطني. الكويت: دار الشروق.

البرغوثي، م (٢٠١٩ .(الصكوك: بين النظرية والتطبيق. بيروت: دار الكتاب الجامعي.

الجبوري، أ (٢٠١٨ .(أبعاد الصكوك الاقتصادية. بغداد: المركز العربي للدراسات.

الجمل محمد أحمد ( ٢٠٠٦م) قانون التمويل الاسلامي: الاقتصاد والتطبيق، مطبعة جامعة كيمبرج.

الحمادي، س(٢٠١٩) الاقتصاد الإسلامي وتطبيقات الصكوك. الرباط: مؤسسة النشر الجامعي.

الخطيب،م(٢٠١٧) الصكوك: الأسس والممارسات. عمان: دار الفكر العربي.

د اسلامي اقتصاد او مالي شورا (۲۰۲۴). د صکوک بریالۍ تجربې

د اسلامي پراختیا بانک (۲۰۲۳). د اسلامي صکوک او عامه پروژو تمویل.

د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام. (۲۰۲۳). د پایښت لرونکې پرمختیا په لور.

د نړیوال بانک (۲۰۲۲). د صکوک د پلي کولو ننګونه..

الراجحي، ن (٢٠١٨ .(شرعية الصكوك في الفقه الإسلامي. أبوظبي: مركز الدراسات الشرعية.

الزبير، ع(٢٠١٦) تأثير الصكوك على التنمية الاقتصادية. القاهرة: مركز الدراسات الاقتصادية.

السليمي، ع(٢٠١٨) الصكوك في التمويل الإسلامي. جدة: دار الهدى.

الشامسي، م (٢٠٢٠) الصكوك الإسلامية: نظرة اقتصادية. الرياض: دار الثقافة.

شرف، محمد. (۲۰۲۴). معلوماتي ټيکنالوژۍ او مالي نوښت..

الشريف، أ (٢٠٢٠) الصكوك في السوق المالية: التطبيقات والإجراءات. مسقط: دار النشر للعلوم الاقتصادية.

الشعراني، م ( ٢٠١٧) الصكوك: المفاهيم والتطبيقات. صنعاء: دار الثقافة.

صديقي محمد (٢٠٠۴م) الربا والفائدة البنكية وعلة التحريم، مركز البحوث الاسلامية والتدريب.

الطفيل، ع) .٢٠٢٠ .(الفقه الإسلامي والصكوك. المدينة المنورة: مؤسسة الفقه الإسلامي.

عبيدالله محمد ( ٢٠٠٥م) خدمة التمويل الاسلامي، مركز بحوث الاقتصاد الاسلامي.

عثماني محمد تقي ( ١٩٩٨) الاسلام والحداثة، دار الاشاعت، كراتشي.

عثمانی محمد تقي (٢٠٠٢م) مقدمة في التمويل الاسلامي، ادارة المعارف، كراتشي، باكستان.

العثماني، م. ت(٢٠١٤) الصكوك كأداة تمويل إسلامية. جدة: دار الميمان.

العطية، خ (٢٠٢١) الصكوك: أداة تمويل إسلامية. الدوحة: دار الفكر المعاصر.

العنزي، ر(٢٠١٦) التطبيقات المعاصرة للصكوك الإسلامية. الكويت: مركز الأبحاث الإسلامية.

الغانم، ب(٢٠١٩) الصكوك وأثرها في التمويل الإسلامي. البحرين: دار العلوم.

القرضاوي يوسف ( م٢٠٠٩) الحلال والحرام في الاسلام، خدمة الكتاب الاسلامي ، القاهرة.
كمالى محمد هاشم ( ٢٠٠٠) قانون التجارة الاسلامية، تحليل العقود الآجلة والخيارات، المجتمع الاسلامي النصي.
محمد أبو القاسم جمال(٢٠٠٦) التمويل الإسلامي: القانون، الاقتصاد، والتطبيقات .كامبريدج: مطبعة جامعة كامبريدج.
محمد عبيد الله (٢٠٠٥) الخدمات المالية الإسلامية .جدة: معهد البحوث والتدريب الإسلامي.
محمود، عبدالله (٢٠٢٣) مطالعات التمويل الاسلامي، دار الشروق، جدة.
المسعودي، ف(٢٠١٥) الصكوك وتطبيقاتها في الأسواق الإسلامية. دمشق: مؤسسة الأبحاث الاقتصادية.
المهري، ز (٢٠٢١) الصكوك: دراسة نظرية وعملية. المنامة: دار النشر الحديثة.
هيئة المحاسبة والمراجعة للمؤسسات المالية الإسلامية .(2017) .(AAOIFI) معايير الشريعة .المنامة: هيئة المحاسبة والمراجعة للمؤسسات المالية الإسلامية.